لوړو زده کړو وزارت
کندهار پوهنتون
د ښوونې او روزنې پوهنځی
د تاریخ څانګه

# د افغانستان معاصر سیاسي تاریخ

وړاندې کوونکی: محمد شعیب وحدت

Ketabton.com

# بسم الله الرحمن الرحيم

- د کورس پېژندنه
- د تاریخ په اړه څه معلومات لرئ؟
- ایا تاریخ علم دئ؟

Ketabton.com

# علم څه دئ؟

**د علم (Knowledge) یو جامع تعریف:**

"په یوې **ځانګړي موضوع** د پوهېدني په موخه، د **منظمو څېړنیزو میتودونو** او نظري تفکر په مرسته، د دلایلو منطقي ارزوني ته علم یا پوهنه وایي.

یو علمي کار باید:

- ✓ په خپل ذات کې یو جسورانه نوښتي تفکر وي،
- ✓ د مدارکو یو غوره تنظیم وي
- ✓ او له ځانه سره د نظریو او فرضیو د رد یا تأیید لپاره دلایل ولري".

(ګیدنز. ۱۳۸۷؛۴۴)

Ketabton.com

# د تاریخ د علم تعریفونه

- تاریخ د مهال او ځای  په قید سره د تېر وخت او تېرو کړنو بیان ته ویل کیږي.

- تاریخ هغه علم دئ چی د مهال اوځای  په قید کي د بشري ټولني تکاملي تګلوری تشریح کوي.

- د تاریخ علم تېري پیښي بیانوي، اوسنی حالت څیړي او د راتلونکي په اړه پیش بیني کوي.

Ketabton.com

# د تاريخ د علم تعريفونه ۲

- تاريخ د مهمو پيښو د نېټو او د مهمو افرادو د کارنامو ثبتول او بيانول دي.

- "تاريخ په پراخه مانا د تجربو، علمونو، تحولاتو، بدلونونو، ډلو او ژونديو ټولنو د احوالو په باره کي اطلاعات دي". امريکاي تاريخپوه، مارټ

# د تاریخ د علم تعریفونه ۲

- "په پرون کي د مادي (اقتصادي)، شعوري (ذهني-عقلي) اوسليقوي (فرهنګي-کلتوري) تفاوتونو او اختلافونو څخه د راپیدا سویو حوادثو علمي تحلیل او بیان ته تاریخ وایي." محمد ابراهیم عطایي.

➢ولي فکر، اقتصاد او کلتور مهم دي؟
➢تاریخي تفاوت څه دئ؟
➢تاریخي تضاد څه دئ؟
➢د علمي تحلیل اهمیت څه دئ؟

Ketabton.com

# د تاريخ د علم تعريفونه ۳

**رابین جورج کالینگووډ:**

**تاريخ علم دئ؟**

"د تاريخ علم، لکه ساينسي علوم يا ټولنپوهنه، د تفکر يوه ځانګړې بڼه ده؛ يو ډول څېړنه ده."

تاريخ علم دی ځکه،

"علم، د تفکريوه بڼه ده چې دهغې په وسيله او چوکاټ کې ځانګړي پوښتنې مطرح اود هغوی جوابولو لپاره هڅه کيږي."

Ketabton.com

# د تاریخ د علم تعریفونه ۴

د کالینګووډ ادامه:

نو تاریخ داسي تعریفوو:

تاریخ په شیانو د پوهیدو علم دئ او په تاریخپوهنه کي شیان کړني (عملونه) دي. تاریخ د کړنو علم دئ او د انسانانو د کړنو په تړاو پوښتنو ته جوابونه پیدا کوي.

Ketabton.com

# د تاریخ د علم تعریفونه ۵

**کالینګووډ ادامه...**

له بلي خوا تاریخ دانسانانو د ځان‌پیژندني علم دئ. ځان‌پیژندنه، د انسان د مقام پیژندنه ده اولاندي پوښتنو ته ځوابونه ورکوي:

انسانیت څه دئ؟

هغه انسان چه ته یې، څوک دئ؟

هغه انسان چه ته یې او بل هیڅوک نه دئ، څوک دئ؟

Ketabton.com

# د تاریخ د علم تعریفونه ٦

؟ د کالینگووډ ادامه...
په بل عبارت، ځان‌پیژندنه دا پوښتنه ځوابوي چې څه کولای سو؟ او لکه څنگه چي هیڅوک نه پوهیږي چي څه، اما کوښښ کولای سو.
د دي لپاره چي معلومه کړو انسان څه کولای سي، باید معلومه کړو چي انسان څه کړي دي؟
نو د تاریخ ارزښت دا دئ چي موږ پوهوي چي **انسان څه کړي دي** او په همدې ترتیب **انسان څه شی** او **څوک دئ**؟

Ketabton.com

# د تاریخ د علم تعریفونه ۷

"تاریخ د بشري روح د ځانپوهېدني (خود آگاهۍ) او آزادۍ، تکاملي (بشپړتیايي) تګلورى دئ".
المانی فیلسوف، فریدریک ویلهلم هیګل.

**د دغه تعریف لنډه تشریح:**
د بشر تاریخ د هغه د فکر تاریخ دئ ځکه چي انساني کړني د هغه له ارادې څخه او د هغه اراده د هغه له فکر څخه منشا اخلي. نو نتیجه اخلو چي د انسان د کړنو په اړه پوهه، د هغه د فکر د بشپړتیایي تګلوري په باره کي پوهه ده.

Ketabton.com

# د تاریخ فلسفه

**فلسفه څه ده؟**

فلسفه د نړۍ د لویو مسئلو په اړه د (ولې؟) پوښتنو ته جواب مومي.

**فلسفه تل د شیانو پر ماهیت او ذات بحث کوي.**

اما دلته فلسفه د <u>**حکمت** په مانا کارېږي</u>

**د تاریخ فلسفه څه ده؟**

**د تاریخ په فلسفه دوه ډوله مطالعې کیږي:**

1) **د تاریخ انتقادي فلسفه. کومه څه رښتیا او عیني دي؟**
2) **د تاریخ نظري فلسفه.**

Ketabton.com

# د تاريخ فلسفه ۲

- **د تاريخ په فلسفه کي مهمي مطرح پوښتني:**
  - ✓ ايا تاريخ تګلوری لري؟
  - ✓ ايا تاريخي پېښبي د يوه له مخکي کښل سوي نقشې او قوانيو پر اساس رامنځته کيږي؟
  - ✓ ايا تاريخي پېښبي ټولي د انسان په لاس کي دي؟ او که انسان غوښتي وای، د هغوی تګلوری يې بدلولای سوای؟
  - ✓ د تاريخ غايت او نهايي هدف څه دئ؟
  - ✓ انسان له کومه راغلی او چيري ځي؟
  - ✓ د انساني حرکت او الهي ارادې ترمنځ څه رابطه ده؟

Ketabton.com

# د تاریخ فلسفه ۳

د تاریخ فلسفي بحث ادامه...

- ✓خطي حرکت
- ✓دوراني حرکت

- ابن خلدون ۱۳۳۲-۱۴۰٦ زېږدیز. دوراني نظریه
- نایف الرضان ۱۹۵۹- زېږدیز. د تاریخ تداوم نظریه
- هیګل ۱۷۷۰- ۱۸۳۱ زېږدیز. خطي، تکاملي نظریه

Ketabton.com

# د تاریخ فلسفه ۴

**د تاریخ د فلسفې تعریف:**

"د تاریخ په اوږدو کې د یوې ټولنې د تحولاتو او تطوراتو (بدلونونو) د پړاوونو څېړلو ته د تاریخ د فلسفې علم وایي. د تاریخ فلسفه پر دغو تحولاتو او تطوراتو باندې د حاکمو قوانینو څېړنه هم کوي".

مطهري

د تاریخ فیلسوان وایي چې پرمختګ اوترقي د بشري ټولنو لپاره یوه طبیعي چاره ده. ټولنه د تل لپاره د بدلونونو او تحول په حالت کې ده او په تدریج سره له یوې مرحلې څخه و بلې مرحلې ته د تمدن او تعالي (لوړوالي/پرمختیا) پر لور تګ کوي.

Ketabton.com